مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۴/۱۱

# غزل

کشکي دي سینګارکم له نظر څخه بېرېږمه

زه د بدو سترګو له اثر څخه بېرېږمه

ګوندي له مُلا څخه آذان د سهار وتښتي

شپه مي اوږدومه له سحر څخه بېرېږمه

ستا تر قدمونو به رقیب سجدې در ولېږي

پټ یي د لستوني له خنجر څخه بېرېږمه

ستا له کوه قافه یي پردي قفس ته راوړمه

اوس مي په وزر کي له شهپر څخه بېرېږمه

پټ به مي ساتمه له اغیار څخه لانده لیمه

نن د خپلو اوښکو له ګودر څخه بېرېږمه

ما چي په تیارو کي د ځوانۍ کلونه خاوري کړل

خوښ یم په خلوت کي اوس له لمر څخه بېرېږمه

ما مي له پېریو د ساحل تمه شلولې ده

اوس نه له څپو نه سمندر څخه بېرېږمه

زه لکه شبنم ژوند مي یوه شپه تر سهاره دی

څنګه به مرګیه ستا له شر څخه بېرېږمه

ما چي جهاني قدم اخیستی دی اورونه دي

ولي به پر سکروټو له سفر څخه بېرېږمه.

د ۲۰۲۴ کال د اپریل د میاشتي دریمه، ویرجینیا

افغان جرمن آنلاین پورتال کی د لیکوال آرشیف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ